بنسټیزې
روڼتیا
نوښت
افغانستان

# د لاړ ورکولو دویم راپور

## انفوگرافیک

په ټولګټو بنسټیزو پروژو کې روڼتیا او ځواب ویینه



۱۳۹۸ لېږدی


د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت

## ۱. د پروژو لړلیک


| شماره | د پروژو نوم | لګښت په افغانیو |
|---|---|---|
| ټرانسپورټ وزارت | | |
| P۱ | د مزار شریف ښار دننه په داخلي سړکونو ۱۵ کیلو مېتره اضافي کار | ۱۹۱۹٦۳٦۰۲ |
| P۲ | د ۲۳،۱۵۰ کیلو مېترو په اوږدوالي د کابل – لوګر د دویم سړک جوړول | ۷۸۲٥٦٥۹۱٥,٦ |
| P۳ | د تالقانو په کمندو سړک د ۱۲ مېترو په اندازه د پل کانکرېټ | ۷۰۷٤۰٥۰ |
| P٤ | د هرات – چغچران او چغچران – ګردن دېوال د سړک د دویمې برخې ډیزاین او جوړول | ٤٤٦۳۰۷۷۹۱۱ |
| P٥ | له پل حصار څخه تر خاواک ولسوالۍ پورې په سړک د سفالټ اچول (لومړۍ برخه) | ۲۰۳۳۹٤٤۰ |
| د اوبو او انرژۍ وزارت | | |
| P٦ | د نهر شاهي سربند او کانال جوړول | ۸۸۱۱٦۰۳ |
| P۷ | د لوی کاریز د سیند د څنډو د ساتنې (تحکیم) طرحه | ۳۳۳۰٥۲۳ |
| P۸ | د تحت حقان-۱ د سیند د څنډو د ساتنې (تحیکم) طرحه | ۲٥۱٤۷٥۱۸ |
| P۹ | د خان اباد بند ۲ | ۱۹٥۰۰۰۰۰۰۰ |
| P۱۰ | په نیمروز ولایت کې د چهار برجک کانال د بیا رغول او بیا ودانول | ٦۷۰۰۰۰۰۰ |
| د ښار جوړولو او ځمکو وزارت | | |
| P۱۱ | په فیض آباد کې د اوبو رسولو شبکې جوړول (په NTLZ او NTHZ زونونو کې د اوبو رسولو شبکه) | ۳۱۷۳۹۳۳۸٦ |
| P۱۲ | د مخکې جوړو شوو قطعو د فابریکې پلان جوړول، ډیزاین او نصب | ۷٦۳٦٥٥٥۷۹ |
| P۱۳ | د کندهار پوهنتون د لیلیې جوړول | ۱۰۲٥۸٦٥۳٦ |
| P۱٤ | د طبي محصولاتو او درملو د لابراتوار د ودانۍ جوړول | ۱۱۷٤۳۰٤٤٤ |
| P۱٥ | د قالین بافانو د استوګنیزې او صنعتي پروژې د اوبو رسولو او کانالیزاسیون پروژه | ۱٤۳۹۰۹۸۰۱ |
| ښاروالۍ کابل | | |
| P۱٦ | د کابل ښاري ترانسپورت د موثریت ښه کولو پروژې پورې اړوند د وزیر آباد کانال جوړونه | ۷۱۱۷٥٤٤٦۷ |
| P۱۷ | د کارته سخي ګردنې له لارې د کارته آریانا څخه تر کابل پوهنتون پورې سړک | ۳۸۱۸٤۹۷۹ |
| P۱۸ | د سیلو سړک قیر کول (څلورمه برخه) | ۲٤۹۰٦۰۱۹۲ |
| P۱۹ | د خیرخانې مېنې د درېیمې برخې د سړکونو جوړول | ۱٥۱۰۳۸۰۳٥ |
| P۲۰ | د کابل میترو بس شبکې د مشرح د ډیزاین د ترون اعلانول | ۱٥۸۹۸٥٥۲۲ |

**د دې راپور لپاره د ټاکل شویو پروژو ټول لګښت ۱۰,۱٦ ملیارده افغانۍ له ۱۳۰,۲ میلیون دالرو سره برابره ده .**


## ۲. د فعاله اطلاعاتو خپرول/ منځني ۳۵,۸ ٪





## ۳ د ۲۰ پروژو لپاره د اطلاعاتو خپرولو غوښتنه / منځنی ۵۷ ٪





## ٤. د شریکو شوو معلوماتو کره‌والی او تاییدي/ منځنی ۹۴ ٪




## ۵. د داوطلبۍ بهير/ منځنی ۳۳٦ ورځې




## ٦. د سيالۍ کچه / منځنی ۳٫۸۷ د هر داوطلب په اساس



## ۷. د مودې زیاتوالی / منځنی ۶۴ ٪




## ۸. د لګښت زیاتوالی /منځنی ۳٫۸ ٪




## د زماني ځنډ دلیلونه




## د لګښت زیاتوالي دلیلونه



## ۹. د کیفیت مدیریت /د ټیټ کیفیت دلایل په لاندي ډول دي:

- ناکافي څارنه.
- د وړاندیز شوي ټیټ قیمت په بنا د قرارداد ورکړې پرېکړه.
- د قراردادیانو کمزوري کړنې.


## ۱۰. موندنې او وړاندیزونه

| | موندنې | وړاندیزونه | مسئول |
|---|---|---|---|
| **الف. د پروژې د معلوماتو شریکول** | | | |
| ۱. په خپله د معلوماتو شریکول | • تدارکاتي اداري په اوسط ډول د پروژې اړوند ۳٦ سلنه معلومات شریکوي.<br>• معلومات د افغانستان د بنسټیزي روڼتیا نوښت د بنسټونو د معلوماتو معیار (CoST IDS) او د پرانیستي ترون ورکولو د معلوماتو (OCDS) د ګډو معیارونو او همدارنګه د اداري د خپلو اړتیاوو پر بنسټ شریکېږي.<br>معلومات په څلورو پورټالونو (portals) کې خپاره شوي چې د سرچینو او هڅو د کاپي کېدو (دوه ځایه کېدو) سبب کېږي. که څه هم حکومت په رسمي ډول دافغانستان د تدارکاتو برېښنايي سیستم (AGEOP) پورټال جوړ کړی، خو دا پورټال په منظم ډول د تدارکاتي ادارو له خوا نه اپډېټ کېږي یا د تدارکاتي ادارو لهخوا شریک شوي معلومات بشپړ نهدي.<br>• د پروژې په کچه او د ترون په کچه د معلوماتو تر منځ روښانه تعریف نشته. | • د افغانستان د الکترونیکي او پرانیستو تدارکاتو د سیستم پورټال سمول او د ملي تدارکاتو اداري د ننه د ظرفیت لوړول، ترڅو له دوی سره مرسته وکړي چې د پروژې د کچې معلومات د ترون کچې له معلوماتو سره یوځای کړي. د بسټیزې ډېټا معیارونو لپاره د پرانیستي ترون (OC٤IDS) کارول د دي موخي ترلسه کولو لپاره جامع وسیله کېدای شي. دا کار به د معلوماتو شریکولو پروسې په پراخولو او عصري کولو کې مرسته وکړي. | د ملي تدارکاتو اداره |
| | • د اداري فساد پروړاندې د مبارزې ځانګړی سکرتریت (SACS) له ټولو هغو تدارکاتي ادارو چې د افغانستان د بسنټیزې روڼتیا نوښت اداري (CoST) سره یې تفاهم لیک لاسلیک کړی غواړي چې د پروژو معلومات د افغانستان د بسنټیزي روڼتیا نوښت د شرایطو(د ادارو لپاره د فساد ضد تګلاره) سره سم شریک کړي. د ډاډمنتیا د ټیم موندنې ښیي چې دا تګلاره نه په بشپړه توګه درک شوې او نه پلي شوې. | • د افغانستان د بنسټیزي روڼتیا نوښت اداره (CoST) باید د دې تګلارې د پلي کېدو لپاره د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې له ځانګړي سکرتریت (SACS) سره له نږدې کار وکړي.<br>• د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ځانګړي سکرتریت باید له ټولو تدارکاتي ادارو په ځانګړې توګه له هغو ادارو چې په بنسټیز سکتور کې کار کوي وغواړي چې په راتلونکې تګلاره کې د پروژ معلومات د افغانستان د بنسټیزي روڼتیا نوښت د زېربناوو د معلوماتو د معیار له مخې شریک کړي. | د فساد پر ضد د مبارزې ځانګړی سکرتریت/د افغانستان د بنسټیزي روڼتیا نوښت |
| ۲. د غوښتنې له مخې د معلوماتوشریکول | • د پروژې د معلوماتو منفعلی یا غبرګوني (غوښتنې پر بنسټ) شریکول له اداري څخه اداري ته (د ادارو تر منځ) د معلوماتو شریکولو څخه ټوپیر لري او د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د زېربنايي معلوماتو معیار (CoST IDS) پر بنسټ له ٦٪ څخه تر ۹۳٪ نمرې ورکړل شوې.<br>• تدارکاتي اداري د غوښتنې پر مهال په اوسط ډول ۵۷ سلنه معلومات د ډاډمنتیا ټیم سره شریکوي<br>• د افغانستان بنسټیزي روڼتیا نوښت په اړه ناکافي معلومات او د فایلېنګ (دوسیه بندی)/آرشیف کولو د عصري سیستم نشتون د غوښتنې له مخې د معلوماتو د شریکولو د پروسې د اغېزمنېدو اصلي لاملونه دي. | • تدارکاتي ادارو ته د معلوماتو شریکولو ، د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت پروګرام او معلوماتو ته د لاسرسي قانون د اهمیت په اړه د ظرفیت لوړونې روزنه | معلوماتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون/د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت |
| | | • د فایلېنګ (دوسیه بندی)/آرشیف کولو مناسب سیستم رامنځته کولو لپاره د تدارکاتي ادارو لپاره د ظرفیت لوړو نې روزنه ورکول | معلوماتو ته د لاسرسي د څارنې کمیسیون/د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت |
| ۳. د معلوماتو اعتبار/دقت | • په منځنې ډول، په دریو پورټالونو کې شریک شوي معلومات ۹۴ سلنه دقیق دي. د وېب سایټونو معلومات په لاسي ډول داخل شوي او په منظم ډول نه اپډېټ کېږي. | • په سمه توګه د معلوماتو داخلولو او د شریکو شوو معلوماتو د اعتبار او دقت لوړولو په برخه کې د تدارکاتي ادارو د ظرفیت لوړول | د ملي تدارکاتو اداره |
| **ب. د تدارکاتو په پروسه کې روڼتیا** | | | |
| ٤. د مناقصې پروسه | • د مناقصې پروسه په اوسط ډول ۳۳٦ ورځې وخت نیسي په داسې حال کې چې په په نورمال ډول په ملي رقابتي داوطلبۍ کې له ۱۲۰ او په نړیواله رقابتي داوطلبۍ کې له ۱۵۰ ورځو زیات وخت وانخلي.<br>• د مناقصې په پروسه کې ځنډ خصوصي سکتور د زېربنايي پروژو له داوطلبۍ څخه زړه توری کړی دی. بیوروکراسي، په ټاکلې موده کې د داوطلبۍ اسنادو د ارزونې لپاره په تدارکاتي ادارو کې د پوهې او مهارتونو له پلوه ناکافي ظرفیت او د قراردادیانو له خوا د داوطلبۍ نامکملو اسنادو وړاندې کول د مناقصې پروسې د ځنډ اصلي لاملونه دي. | • په اغېزناکه او موثره توګه د مناقصې پروسې مدیریت کولو لپاره، د ملي تدارکاتو اداره د مناقصې الکترونیکي پروسه رامنځته کولی شي. دا کار به د وخت سپما او سالمې سیالۍ ته زمینه برابره کړي. | ملي تدارکاتو اداره |
| | | • د خصوصي شرکتونو ظرفیت جوړونه ترڅو دوی وکولی شي د داوطلبۍ مناسب او وړاسنادچمتو کړيچې د تدارکاتو د قانون او کړنلارېله شرایطوسره مطابقت ولري. | خصوصي سکتور |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵. د سیالۍ کچه | • مونږ ښيي چې د لوړې پانګې غوښتونکو پروژو لپاره کافي په شرایطو برابر داوطلبان نشته دي. د ۲۰ څخه په ۵ غوره شوو پروژو کې یوازې یوه داوطلب د مناقصې په پروسه کې ګډون وکړ. دا کار د بیا مناقصې لامل شو. مونږ هغه پروژې هم په ګوته کوي چې د وړ داوطلب موندلو لپاره څلور ځله اعلان شوې دي. په لویو پروژو کې د ټیټې سیالۍ لامل دا دي ٤٥Bahij Helvetica Neue Light: د پرېکړې کولو ټکنۍ پروسه، د ارزونې په پروسه بې اعتباري او د داوطلبۍ ارزونې په معیارونو کې د نرمۍ (انعطاف) نه شتون. په کوچنیو پروژو کې د سیالۍ کچه ښه ده. | • دولت باید د ورته پروژه په معیارونو له سره غور وکړي. یو بدیل بې ښایي د ورته کار معیارونو ته بدلون وي چې د لوړې سیالۍ لامل به شي. | د ملي تدارکاتو اداره |
| | | • د پروژو د مناقصې برېښنایي کول او ډیجیټل کول. دا به د داوطلبۍ په اسنادو کې د لاسوهنو مخنیوی وکړي او همدارنګه رڼې سیالۍ ته به لار هواره کړي. | د ملي تدارکاتو اداره |
| | | • په برخو/لاټونو د لویو پروژو وېش یا د لویو پروژو مناقصې ته سپارلو له پرېکړې مخکې د بازار څېړنه | تدارکاتي اداري |
| | | • امنیت د پروژو پلي کېدو پر وړاندې یو لوی ګواښ ګڼل کېږي. د دې لپاره چې قراردادیان د هغو پروژو په داوطلبۍ کې د ګډون لپاره وهڅول شي چې په ناامنه سیمو کې دي، د امنیتي ګواښ د مدیریت په موخه د موادو د کمیت په بېل (BoQ) کې یو ځانګړی توکی اضافه کېدای شي. | تدارکاتي اداري |
| | | • د لویو پروژو د داوطلبۍ په ارزونه کې انعطاف، لکه د ورته کاري تجربې لپاره د دوو پروژو منل یا د کلني ادلون بدلون (تغیر او تبدیل) کمول. | د ملي تدارکاتو اداره |
| | | • په څو وېبسایټونو کې د داوطلبۍ اعلانول ترڅو پراخ ګډون او لوړه سیالي رامنځته شي. | تدارکاتي اداري |
| ج. د پروژې پلي کول | | | |
| ٦. په پروژو کې د وخت زیاتوالی (ځنډ) | • ارزول شوې ودانیزې پروژې په منځني ډول د ٦١ سلنه وخت زیاتولي (ځنډ) سره مخامخ وې. د وخت د زیاتېدو (ځنډ) لاملونه دا دي:<br>○ د ځمکې استملاک<br>○ نادقیقه سروې<br>○ کمزوری ډیزاین او د موادو د کمیت په بېل (BoQ) کې تېروتنې<br>○ د تدارکاتي ادارو له خوا ناسم مهالوېش<br>○ د هوا حالات<br>○ د قراردادیانو له خوا د پروژو په تمویل کې ستونزې او د تادیاتو ځنډ | • په وخت د زېربنایي پروژو د بشپړېدو لپاره تدارکاتي اداري باید د پروژو د چمتووالي مرحله او د مهالوېش ټاکلو مهارتونو ته وده ورکړي. د پروژو سندونه لکه سروې، ډیزاین، د موادو د کمیت بېلونه (BoQ) او مهالوېش باید داوطلبۍ ته سپارلو د مخه د تېروتنو لپاره په غور وکتل شي. | تدارکاتي اداري |
| ۷. د لګښت زیاتوالی | • ارزول شوې ودانیزې پروژې په منځني ډول د لګښت له ۳,۸ سلنه زیاتوالي سره مخامخ وې. په غوره شوو پروژو کې د لګښت زیاتېدو اساسي لاملونه عبارت دي له: د سروې او ډیزاین پخواني یا زاړه سندونه، د موادو د کمیت په بېل (BoQ) کې تېروتنې او د ډیزاین او کاري ساحې (محدودې) بدلون. | • د پروژې په محدوده او د موادو د کمیت بېل (BoQ) کې د بدلون د مخنیوي لپاره باید تدارکاتي اداري د پروژې د چمتووالي مرحلې ته وده ورکړي. د زړې سروې او ډیزاین کارول ښایي پروژې له ناکامۍ سره مخامخ کړي او باید د دې کار مخنیوی وشي. | تدارکاتي اداري |
| ۸. د کیفیت مدیریت | • د کیفیت موضوع په ډېرى ودانیزو پروژو کې اساسي اندېښنه ګڼل کېږي. د ټیټ کیفیت اساسي لاملونه عبارت دي له:<br>○ ناکافي څارنه<br>○ ټیټ نرخ ته د پروژو ورکولو پرېکړه<br>○ د قراردادیانو له خوا بې کیفیته کار | • په زېربنایي پروژو کې د کیفیت پلي کولو لپاره باید د څارنې پر میکانېزم بیا غور وشي. سربېره پر دې، ترټولو ټیټ نرخ ته د پروژې ورکول باید د قراردادي مالي ظرفیت ته په کتو وټاکل شي او د تړون له ورکولو مخکې د پیسو ارزښت تضمین شي. | تدارکاتي اداري |
| | | • قراردادیان کولی شي د پروژې کار د پروژې د مدیریت او د کیفیت د مدیریت د اصولو په منلو او رعایت سره ښه کړي او په اوږد مهال کې د سرچینو د سپمولو او په پروسه کې د ضایعاتو د مخنیوي له لارې ګټه لاسته راوړي. | خصوصي سکټور |
| ۹. د پروژې خوندیتوب (مصونیت) | • د پروژو له ساحو د نظارتي لیدنو څخه معلومېږي چې د پروژې خوندیتوب ته تر ډېره د قراردادیانو له خوا پاملرنه نه ده شوې. د خوندیتوب (مصونیت) موضوع په تړونونو کې په واضحه توګه نه ده ذکر شوې او آن تدارکاتي اداري چې کله د پروژو څارنه کوي د خوندیتوب مسئلې ته پاملرنه نه کوي. په ډېری پروژو کې کارګرانو د خوندیتوب کافي وسایل (PPE) نه درلودل او د ساختماني ساحې د جلا کولو لپاره د خبرداري فیتې نه وې لګول شوې. د خوندیتوب مسئلې آن د ډونرانو [مالي ملاتړ کوونکو] له خوا په تمویل شوو پروژو کې هم تر سترګو کېږي. د سرچینو د محدودیت له امله د ډاډمنتیا ټیم ونه شوی کړی چې هره پروژه کې پیښې وشمېري نو په دې توګه دا مسئله په راتلونکو څېړنو کې په پام کې نیول کېدی شي. | • تدارکاتي شرکتونه باید په تړون کې د خوندیتوب مسئله په واضح ډول ذکر کړي او د کارګرانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي. سربېره پر دې، دې مسئلې ته باید د پروژو د څارنې پر مهال د یوه جلا ټکي په توګه پاملرنه وشي او په منظمه توګه وڅارل شي. د خوندیتوب موضوع د نه رعایت کولو په صورت کې تدارکاتي اداري باید د مخنیوونکي اقدام په توګه د قرارادادي جریمې ټاکلو احتمال په پام کې ونیسي. | تدارکاتي اداري |
| | | • قراردادیان باید د پروژې د پلي کېدو څخه مخکې کراګرانو ته د خوندیتوب په اړه روزنه ورکړي ترڅو ډاډه شي چې د پروژې د پلي کېدو پرمهال کوم کارګران زیانمن نه شي. | خصوصي سکټور |
| ۱۰. ټولنیزې حساب ورکونې | • ټولنیزې حساب ورکونې ته د رسېدو لپاره باید د مدني ټولنې سازمانونه د پروژو په تحویل کې د عامه خلکو د ښکېلتیا نوښت په لاس کې واخلي او په دې راپور کې راغلي وړاندیزونه تعقیب کړي./ د مدني ټولنې سازمانونه | | د مدني ټولنې بنسټونه |

## د ډاډ ورکونې راپور څه شی دی؟

د پروژو د ډاډ ورکونې راپور پر متن د زیربنایي پروژو تخنیکي اطلاعات څېړل کېږي، اندېښنې پېژندل کېږي او په عام فهمه ژبه ژباړل کېږي او په پای کې د خلکو په واک کې ورکول کېږي. دغه راپور له ولس او د دخیلو بنسټونو له ډلې سره مرسته کوي، چې د زیربنا سکټور اړین موضوعات درک او پرېکړه نیوونکي حساب ورکونې ته راوبولي.




## د ډاډ ورکولو دویم راپور
### د انتخاب شویو پروژو موقعیت په نقشه کې

CoST افغانستان


پته: ملي سکرتریت، څلورم پوړ، د اقتصاد وزارت
د بهرنیو چارو وزارت سړک، ملک اصغر څلور لره، کابل – افغانستان

www.cost.af | @cost_af | +۹۳۷۹۲۰۲۱۶۱۶ | /afgcostinitiative | info@cost.af